**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

# اې د پاکستان مسلمانانو! د خپل رسول صلی الله علیه وسلم له سنتو څخه پیروي وکړئ. د افغان کډوالو انصار شئ. د دغه ظالم حکومت لاس ونیسئ چې زموږ افغان وروڼه یې له کړاوونو سره مخ کړي دي

(ژباړه)

د پاکستان حکام بې وسه او بې دفاع افغان مسلمانان په زور له خپلې خاورې باسي. د اقتصاد د ویجاړۍ پړه د پیسو نړیوال صندوق (IMF) پر ځای پر څو سوه زره افغانانو اچوي؛ په داسې حال کې چې دا د پیسو د نړیوال صندوق د پالیسیو د غلامانه پیروۍ پایله ده. داسې افغان مسلمانان هم شته چې کلونه کلونه، ان لسیزې کېږي چې دلته ژوند کوي، ډېری یې هغه کسان دي چې په پاکستان کې زیږیدلي او مخکې یې افغانستان نه دی لیدلی. د دوی مال ترې اخیستل کېږي او پاک‌لمنې مسلمانې ښځې یې ځورول کېږي. دغه مسلمانان اړ شوي چې خپل پاتې شیان په نا مناسبه بیه وپلوري؛ د تورخم او چمن پر پولو داسې ځورول کیږي، لکه نجس هندوان چې وي! د دغو حکامو لپاره د لا اله الا الله محمد رسول الله کلیمې ویل، په پاکستان کې زیږېدل، ټول ژوند دلته تېرول او ان دلته واده کول هم نه شي کولای چې افغان مسلمان د تابعیت مستحق وګرځوي. بیا هم دا حکام ادعا کوي چې پاکستان یو اسلامي دولت دی!

د افغانستان او افغان مسلمانانو پر وړاندې د پاکستان د حکومت له تعصب څخه ډک سیاستونه باید رد شي؛ دا په سیمه کې د افغانستان او پاکستان د مسلمانانو تر منځ نفرت او کرکې ته لمن وهي. نژادي تعصبي سیاستونه به په سیمه کې مسلمانان نور هم کمزوري او زموږ ځواک به ګډوډ کړي، چې ګټه به یې یوازې زموږ دښمنانو ته رسیږي. مسلمانان له نورو ټولو امتونو بېل امت دی. د دوی خاوره، جګړه او سوله یوه ده. یو مسلمان بل مسلمان بې وسه نه پرېږدي او نه یې سپکوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لاَ يَظْلِمُهُ وَلاَ يَخْذُلُهُ وَلاَ يَحْقِرُهُ [صحیح مسلم]

**ژباړه:** *«مسلمان د بل مسلمان ورور دی، نه پرې ظلم کوي، نه يې سپکاوی کوي او نه هم په سپکه سترګه ورته ګوري.»*

پرېږدئ چې د افغانستان او پاکستان مسلمانان لکه انصار او مهاجرين يو بل غيږ کې ونيسي. د مدينې انصارو مهاجرين دومره په ورين تندي او زړه سوي سره ومنل چې خپل کورونه او کاروبارونه يې ورسره شريک کړل. څه چې انصارو خوړل او څښل، هماغه څښاک او خواړه به يې مهاجرينو ته هم برابرول. د انصارو سعد بن ربيع رضي الله عنه له خپلو دوو مېرمنو څخه يوې ته د طلاق ورکولو وړانديز وکړ، تر څو د هغې د رضايت په صورت کې له مهاجر، عبدالرحمن عوف رضی الله تعالی عنه سره واده وکړي. الله سبحانه وتعالی په قرآن کريم کې له خپلو مهاجرو ورونو سره د انصارو د سخاوت ستاينه کړې ده.

**«وَيُؤۡثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ وَلَوۡ كَانَ بِهِمۡ خَصَاصَةٞۚ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفۡسِهِۦ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ» [حشر: ۹]**

**ژباړه:** «او پر خپل ځان نورو ته ترجېح ورکوي، که څه هم په خپله محتاج وي. حقيقت دا دی، کوم خلک چې د خپل زړه له تنګۍ څخه وژغورل شول، همدوی بري موندونکي دي.»

طبري د دې آيت په اړه د انصار هغه واقعه ياده کړې، چې د خپل کور چراغ به يې مړ کړی و، تر څو يې مېلمه خواړه وخوري او پام يې نه شي چې د هغه خپله کورنۍ د ځان لپاره هېڅ خواړه نه لري.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** د خپلو افغان ورونو د شړلو مخه ونيسئ او رد يې کړئ. د خپل رسول صلی الله عليه وسلم د سنتو پيروي وکړئ. د مدينې تړون در ياد ولرئ. د افغانستان د مهاجرو لپاره د مدينې انصار شئ. د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم د مينې لپاره د صحابه کرامو سنت را ژوندي کړئ. خپل ورونه مو له ځانه مخکې کړئ! د حکامو لاسونه لنډ کړئ. د دغه ظلم پر وړاندې په چوپ پاتې کېدو سره د دوی ملګرتيا مه کوئ. په حقيقت کې الله سبحانه وتعالی مسلمانان ورونه ګڼلي دي او دا زموږ اصلي اړيکه ده. د نبوت پر منهج خلافت د تاسيس لپاره غږ پورته کړئ ترڅو يو موټی شئ. دا به د ډيورنډ استعماري کرښه له منځه يوسي چې موږ يې بېل او

کمزوري کړي یو. خلافت به په عملي توګه امت ته وروروليِ ور په برخه کړي او د اسلامي نړۍ ټولې سرچينې به سره توحيد او د ټول امت لپاره د لاسرسي وړ کړي.

## د حزب التحرير- ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د ربيع الثاني ۲۹مه**

**۲۰۲۳م کال، د نومبر ۱۳مه**

**د صدور ګڼه: ۱۹/ ۱۴۴۵**

**ژباړن: محمد حامد**